مطبوعاتي اعلامیه

# افغانستان کې واک ته د طالبانو د بیا راګرځیدني د دریم کال او د پراخو بشري حقونو د نقض اړوند

اد ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ طالبان د افغانستان قدرت ته بیا را را وګرځېدل او ددې هیواد د چارو مشري یې پر غاړه واخیسته. په دې راتګ سره یې د افغانســتان د ښــاروندو په ځانګړي ډول د نجونو او ښځو د ژوند پر بېلابېلو اړخونو ناوړه اغېزې وښېندلې. ځکه دې ډلي په تدریجې او سیستماتیک، پلان کړل شوې او هدفمند ډول ښځي د خپلو ټولو حقوقو لکه د زده کړي حق، د کار حق، د آزادانه تګ راتګ حق، د خپل برخلیک د ټاکلو حق او په عامه چارو کي د ګډون حق او نورو بشري حقونو او آزادیو څخه محرومي کړې. اوســمهال چي د طالبانو د کار ته راتګ درې کاله تېرېږي، نه یوازي دا چي د ښځو پر وړاندي په تبعیضي سیاست کي یې بدلون او انعطاف نه تر سترګو کېږي، بلکي د هري ورځي په تېرېدو سره د ښځو د ژوند پر بېلابېلو اړخونو باندي محدودیتونه زیاتېږي.

طالبانو د اســاسي قانون او نورو قوانینو او ملي خپلواکو جوړښــتونو په له منځه وړلو سره ددې هیواد حقوقي ملي نظام له منځه یووړ او پدې ډول سره یــې د نظــام مندي بې عدالتۍ او د بشري حقونو پراخه نقض تــه زمینه برابره کړه. پداسي وضعیت کي او د حقوقي عملي او ملاتړو میکانیزمونــو په نه شــتون کي د تېر حکومــت د کارکوونکو او د هغوئ د کورنیو د غړو، د بشري حقونو د مدافعینو په ځانګړي ډول د ښــځینه فعالانو او خبریالانو پر وړاندي د تاوتریخوالي او غچ اخیســتني د یرغلونو یوه لویه څپه په کار ولوېدل چي زیات شــمېر قربانیان یې ودرلودل. خپــلسري او نــا قانونه نیوني، اجباري ورکول، شــکنجه او ناوړه چلند، یو له هغو نورو شــدیدو مواردو څخه دی چــي د بشري حقونو نقض یې رامنځتــه کــړ، چي د هیواد په بېلابېلو برخو کي په یوه اندازه رامنځته شــو او د وهم او ډار د فضا پــه رامنځته کولو سره د میلیونونو وطنوالو د تیښتي لامل شو.

رواداري، پــه یــاد وخت کي په منظم او دوامداره ډول د بشري حقونو وضعیت او په ځانګړي ډول د مدني او ســیاسي حقونو د نقض د پېښــو څارنه کړې ده او مســتند کړي یې دي. زموږ همکارانو د هر ډول ســتونزو او ننګونو په ځانګړي ډول هغه شــدید او سخت محدودیتونه چي د طالبانو له لوري پر مطبوعاتو وضع شــوي وه، د مرکو، د پوښــتنپاڼو او په مســتقیم ډول قربانیانو ته مراجعه، د هغوئ پاته کورنۍ غړي، عیني شــاهدان او ددوی خپلوان او نورو ســیمه یزو معتبرو سرچینو څخه یې د بشري حقونو د نقض د پېښــو اړوند معلومات راټول او ثبت کړي دي. پــر دې سربېــره ټــولي هغه قضیې چي د بشري حقونو د نقض اړوند دي او د رواداري په راپورونو کي نشر شــوي دي، لږ تر لږه له درې خبرو او معتبرو سرچینو څخه تائید شوي دي.

رواداري د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه بیا د ۲۰۲۴ کال د جون تر ۳۰ نېټې پوري ۹۲۷۴ پېښې په افغانستان کي د بشري حقونو د نقض اړوند چي نیم له دې څخه یې د ژوند د حق د نقض اړوند قضیې دي ثبت او مستند کړي دي. دا پېښیي بېلابېلي دي لکه د ژوند د حق نقض، خپلسري او غیر قانوني نیوني، شکنجې چي قتل د لامل شوي، جبري ورک کول او د ظالمانه او غیر انساني مجازاتو پلي کول دي.

د لاسته راغلو شواهدو او مدارکو پر بنسټ، پدې وخت کي لږ تر لږه ۴۷۳۷ د ژوند د حق د نقض پېښې د ملکي تلفاتو اړوند دي چي هدفمند انفجاري او د ځانمرګو بریدونه، د تېرو جګړو، وســله والو شــخړو او هدفمندو، پټو او د محکمې پرته وژنې او د انفجاري موادو پاته شــونو په وسیله رامنځته شوي دي. ددې پېښو قربانیان ملکي کسان ښځي، نارینه او کوچنیان دي.

همدارنگه د تېرو درېو کلونو په جریان کې لږ تر لږه ۳۲۱۳ پېښــې د خپلسرو او غیر قانوني نیونو دي چې پدې کې ۲۲۲ پېښــې د طالبانو لخوا د ښځو د نیول کېدو پېښې دي. د تېر حکومت کارکونکي، مدني فعالان، خبریالان او د بشري حقونو مدافعان، هغه کسان چې د طالبانو د مخالفو ډلو په غړیتوب تورن دي او نور غیر نظامي ښاریان په قربانیانو کې شامل دي.

د رواداري د موندنو سره ســم د طالبانو د قدرت ته د راګرځېدو راهیسي ( د ۲۰۲۱ کال د اګســت د ۱۵ څخه بیا د ۲۰۲۴ کال د جون تر ۳۰ پــوري) لــږ تر لږه ۷۱۹ تنه د تېر حکومت کارمندان او د کورنیو غړي یې په خپلسري او غیر قانوني ډول نیول شــوي او په قتل رســېدلي دي چې پدې کې ۲۸۹ تنه په هدفمند، پټ او بېله محاکمې په قتل رســېدلي دي او ۴۳۰ نور کســـان په خپلسري ډول نیول شوي او زنداني شوي دي.

همدارنګه د رواداري موندني دا څرګندوي چې د ۲۰۲۱ کال د اګســت د ۱۵ څخه بیا د ۲۰۲۴ کال د جون تر ۳۰ پوري لږ تر لږه ۳۲ نارینه د طالبانو په زندانونو کې د شــدیدو شــکنجو له امله په قتل رســېدلي دي او همدارنګه پدې وخت کې ۹۰ تنه ښاروندان د هیواد په بېلابېلو برخو کې چې ۱۴ تنه یې ښــځې دي په اجباري ډول ورک کړل شــوي دي. دا قربانیان د تېر حکومت کار کوونکي، مدني فعالان، د بشري حقونو مدافعان او نور غیر نظامي ښاروندان دي.

همدارنګــه د تېرو دریو کلونــو په جریان کې لږ تر لږه ۵۳۱ تنه خبریالان، مدني فعالان او بشري حقونو مدافعان، چې پدې کې ۷۸ معترضې ښــځې په خپلسري ډول نیول شــوي او زنداني شوي دي او هم ۸ معترضې ښځې په قتل رسېدلي دي. سربېره پر دې پدې وخت کې طالبانو لږ تر لږه ۱۱۴۴ تنه نور هیوادوال د خپلو مخالفو ډلو سره د همکارۍ، غړیتوب او یا اړیکو په تور نیولي او زنداني کړي دي.
د لاسته راغلو شواهدو پر بنسټ د طالبانو محاکمو د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ څخه بیا د ۲۰۲۴ کال د جون تر ۳۰ پوري لږ تر لږه ۱۲۰۲ تنه نارینه او ښځینه د بېلابېلو تورونو له امله په ناقانونه، ظالمانه او غیر انساني ډول مجازات کړي دي. پدې مجازاتو کې د قصاص علني حکم، سنګسار، شلاق او نور غیر انساني تلنلاري لکه د تورن د مخ او بدن تورول، شامل دي.

پــر پورتــه ویل شــوو مواردو سربېره، موږ بېلابېلي نوري د بشري حقونو قضیې لکه د بیــان د ازادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي د حق نقض، د ښــځو د بشري حقونــو نقض لکه فرمانونه، احــکام او د واکمني ډلې نور تبعیضي او محدود کوونکي اقدامات، د ماشــومانو، قومي او مذهبي لږکیو د بشري حقونو نقض او د طالبانو په عدلي او قضایې نظام کې عدالت ته د دوی د لاسرسي وضعیت، مستند کړی دی.

سربېره پر دې چې د بشري حقونو د نقض پېښــې مو په تېرو دریو کلونو کې مســتندي کړي دي، خلکو ته مو په اطلاع رسوني او د افغانستان د بشري حقونــو د وضعیــت په اړه عمومي او ځانګړي راپورونه نشر کړي دي، همدارنګه خپلې موندني او اطلاعات مو په منظم ډول د نړیوالو میکانیزمونو سره سم لکه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، د ملګرو ملتونو د ځانګړو راپور ورکوونکو او د بشري حقونو اړوند نورو میکانیزمونو سره شریک کړي دي او د قربانیانو لپاره د عدالت غوښتني او د بشري حقونو د نقض د مرتکبینو د حقوقي تعقیب د موجوده ظرفیتونو او قانوني امکاناتو په نظر کې نیولو سره مو هڅې او عدالت غوښتني هم کړي دي.